# د رحمان بابا د مزار نوے جوړښت

رحمت شاه سائل

د نن نه یوه هفته مخکښې زما د افغانستان د فرهنګ خونې د مشر ظاهرجان بابري صاحب سره په فون دعا سلام وشو، هغهٔ ماته ووې چې مونږ د پښتنو د لوئے او کروړونو پښتنو په زړونو کښې ناست شاعر رحمان بابا د روضې کار سر ته رسولے دے،د هغې پرانسته لا مونږ نهٔ ده کړې، کهٔ تاسو ورشئ او د دغې شوي کار جاج په دې نظر واخلئ چې زمونږ نه پکښې څهٔ نیمګړتیا خو نهٔ ده شوې؟ کهٔ داسې وي نو چې مونږ هغه پوره کړو.

ما د هغهٔ سره دغلته د ورتلو لوظ وکړو، ما ډاکټر راج ولي شاه خټک ته فون وکړو او د رحمان بابا روضې ته د تلو مې ورته ووې خو هغه زمونږ په جوړ کړې پروګرام کښې د څهٔ مصروفیاتو په وجه شامل نهٔ شو، خدائے کول چې دغه وخت محمد یار او عزت الله امید، هم د کندهار افغانستان نه راغلي وو، محمد یار په کندهار کښې د"ښکلا" ادبي او کلتوري رسالې مدیر دے، شاعر او ادیب دے او عزت الله امید کهٔ هر څومره کم عمره دے خو ماته پکښې د سبا د یو ښهٔ شاعر نخښې ښکارې.



احسان درمل چې یو ډېر ښهٔ شاعر دے، هغه هم ؤ، اسد جان چې په لر و بر کښې د ژبې او ادب د یو لوئے خدمت ګار په حېثیت یوه پېژندګلو لري، سېد عثمان سنجش چې په باچاخان مرکز کښې د افغانستان څانګې مسؤل او په باچاخان څېړنیز مرکز کښې مرستندوے دے او امجد شهزاد، مونږ په اولسم ستمبر **2008** مازیګر ځلور بجې د رحمان بابا روضې مبارکې ته ورسېدو. زهٔ چې په ورومبي ځل د رحمان بابا روضې له تللے وم نو هغه وخت د هغهٔ په روضه ګنبد نهٔ ؤ، دېوالونو ته په څهٔ تراشلو کاڼو د هغهٔ شعرونه لیکلي شوي وو، چې ما ته ئې دغه شعر اوس هم د هغهٔ وخت نه یاد دے چې:

چې مجنون غوندې په مینه کښې صادق وي
رحمان وائي په هغو باندې سلام

هغه وخت زهٔ د دې نه هم خبر شوے وم چې د دې مزار تعویذ د افغانستان حکومت رالېږلے دے. د رحمان بابا په نوم چې کومه ټولنه یا جرګه دلته کار کوي، د هغوي د منډو ترړو او د پښتونخوا د نورو شاعرانو د غوښتنو برکت دے چې اوس دغلته یو هال هم جوړ دے، یوه لائبریري هم ده. په روضه ډېر مناسب ګنبد هم جوړ شوے دے او دا د دې ځائے د تېر دور د حکومتونو د خلقو مهربانۍ دي چې هغوي دغه ماحول اوس داسې جوړ کړے دے چې کهٔ د بهر نه څوک دغې مزار ته راځي نو دا ځائے اوس د دغې لوئے شاعر څهٔ نه څهٔ د شان مناسب ښکاري. مونږ چې د رحمان بابا مزار ته ورغلو په مزار د نوي او شوي کار نوے والے او ښکلے والے صفا ښکارېدو. د مزار د پاره چې هغوي د کوم کاڼي او کوم

رنګ انتخاب کړے دے هغه په هره حواله د ستائنې وړ دے، دا کار په افغانستان کښې د اطلاعاتو کلتور او فرهنګ د وزارت له خوا د محترم ظاهر جان بابري صاحب په لاس کړے دے، د دې روضې جنګلې هم ډېر په زړهٔ پورې او ښکلې جوړې کړې شوې دي، مونږ چې ورغلو د دغې مزار خدمتګار د روضې تختې په يو ټوکي صفا کولې او په مزار چا د تازه ګلابو امېلونه غوړولي وو، د دنګ لوړ ګنبد لاندې دغه مزار واقعي د يو داسې شاعر مزار ښکارېدو، د چا شاعري چې د پښتنو په زړونو کښې څلور سوه کاله پس هم موجوده ده او د چا د شاعرۍ د پاکوالي دپاره چې د خدائے لوئے ولي سېدو بابا وئيلي وو چې کۀ بغېر د قرآن د آياتونو نه په بل څۀ مونځ روا وے نو ما به د رحمان بابا په شاعرۍ مونځ کوو.

مونږ ته د دغې مزار هغه خدمتګار ووې چې د دې کار دپاره چې ظاهر جان بابري صاحب څومره تګ راتګ او محنت کړے دے هغه يو خدائے ته ښکاره دے او يو مونږ ته چې هغه په څومره پښتنه مينه او پښتون همت دا کار د تکميل تر مرحلې رسولے دے. د دې خدمت او منډو ترړو اعتراف اسد جان هم په خپلو تاثراتو بيانولو کښې وکړو. ظاهر جان بابري صاحب يو څو شعرونه هم په آرټسټيکل طريقه په تختو ليکلي او چاپېره زوړند کړي وو، چې هغې هم د دغې ګنبد دننه نۀ يوازې يوه ښکلا پيدا کړې وه، بلکې د عامو خلقو د لوستودپاره ئې په دېوالونو د مخکښې نه په ليکلو شوو شعرونو کښې نوې اضافه هم کړې وه.

مونږ په شريکه د مزار خوا ته فاتحه ولوسته او د مزار په دغسې جوړښت بې دربغه ډېر خوشحاله شو، چونکې محمد يار د يوې رسالې مدير دے نو هغه د ځنې دغو ملګرو تاثرات هم ريکارډ کړل. په خبرو خبرو کښې چې اسد جان د ظاهر جان بابري صاحب دکړې خدمت ستائنه کوله. هغۀ ووې چې ما يوه ورځ د افغانستان د اطلاعاتو کلتور او فرهنګ وزير صاحب ته ووې چې تاسو له په پېښور کښې يو داسې هال جوړول پکار دي چې هلته د پښتو د ادب او کلتور پروګرامونه کېږي، ځکه چې دلته پښتنو شاعرانو ته په خپل ښار کښې د پرديوالي يو احساس کېږي او هغۀ ما سره د دې لوظ هم کړے دے" اګر چې د لر او بر پښتانۀ يو تن يو وجود دے خو زۀ به دغه خبره د دې ځائے د وزير اعلي نه علاوه د اطلاعاتو وزير صاحب ته هم وريادہ کړم چې د پروګرامونو دپاره يوازې دنشترهال نه پابندي لرې کول د دې مسئلې حل نۀ دے، د هغې کرايه د دې ځائے د ادبي تنظيمونو د وس چار نه بهر ده، بايد چې هغوي په هم دې پېښور کښې د ادبي او ثقافتي سرګرمو دپاره د يو داسې هال جوړولو بندوبست وکړي چې پښتانۀ شاعران او فنکاران د احساس کمترۍ د شتۀ مرض نه رابهر کړے شي.

مونږ په اخر کښې د رحمان بابا د مزار په خوا کښې د هغې لائبرېرۍ کتابونه هم د نظر نه تېر کړۀ کوم چې دغه لا ئبرېرۍ کښې موجود وو او د څو لمحو تېرولو نه پس واپس راروان شو.

د دلبــرو صــدقې لــره ئــې غــواړم
هسې نه چې په دنيا پسې زهير يم